# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



# عبدالاحد عارض

۱۲۹۷ - ..... ه ش.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

ښاغلی پوهاند عبدالاحد "عارض" د کندهار د نامتو سوداګر میرزا ذکریا خان زوی ، د محمدکریم خان لمسی او د فتح محمد خان کړوسی په ۱۲۹۷ لمریز کال کې د کندهار د هرات بازار د ملا شال ناصري په کوڅه کې زیږېدلی دئ . وروسته تر هغه چې لمړنی زده کړې یې په ۱۳۱۳ لمریز کال په کندهار کې پای ته ورسولې د عربي علم په زده کړه یې پیل وکړ . محترم عارض صاحب چه په هغه وخت کې خپلی کورنی د عبدالاحد په نامه یاداوه ، د ۱۷ کالو په عمر یعنې په ۱۳۱۵ لمریز کال کې د عربي علومو په زده کړه بریالی سو . که څه هم په هغه وخت کې په کندهار کې له بده مرغه د زیات تحصیل امکانات برابر نه وه ، خو بیا هم څنګه چه عارض صاحب د ځوانی په

دوره کې یو ځیرک او د زیاتې زده کړې تږی ځوان و په ډېره لنډه موده کې یې ډېر زیات په عربي او اردو ژبه کتابونه ولوستل او ودې ته یې ځان چمتو کړ چه د وطن سیاسي ، اقتصادي او اجتماعي وضعې ته په نیوکه سترګه وګوري.

عارض صاحب د ۱۳۱۵ او ۱۳۲۵ هجري لمریز کلونو په بهیر کې په ملي بانک ، د وطن په شرکت ، د میوې په شرکت او د قند جوړولو عمومي مدیریت په دفتر کې په دنده بوخت و . څنګه چه ده په اردو ژبه کې پوره مهارت درلود ، له همدې کبله و چه په کال ۱۳۲۶ کې د میوې د شرکت له خوا د نظار هیئت د عضوه په توګه د پاکستان په چمن کې وټاکل شو . عارض صاحب دا دنده د دریو کلونو په بهیر کې په پوره پوهي ، مهارت او ایمانداری پای ته ورسوله . په ۱۳۲۹ کې عارض صاحب کندهار ته راستون شو او هلته د قند جوړولو په شرکت کې د حسابونو او کنټرول په دنده وګومارل سو . کوم وخت چه په ۱۳۳۰ کې د قند جوړولو شرکت په دولتي انحصاراتو پوري وتړل شو ، نو عارض صاحب د نوموړي شرکت مرکز ته په کابل کې تبدیل شو . په دغه وخت کې څنګه چه عارض صاحب د سیاست سره پوره علاقه نیولې وه او د خپلې اولنی زده کړې پر بنسټ یې د وطن و سیاسي او اجتماعي چارو ته په نیوکه سترګه کتله نو ځکه د ویښ زلمیانو حرکت ته ور ننوتئ.

عبدالاحد عارض په کال ۱۳۳۵ په کندهار کې د قبایلو عمومي مدیر مقرر شو . دوه کاله وروسته یعنې په ۱۳۳۷ کې عارض صاحب ددې دندې نه ځان ګوښه کړ او په قادري بس چلولو مؤسسه کې د محاسبې د مدیر په توګه وټاکل سو. دا دنده یې تر ۱۳۴۵ پوري په پوره ایمانداری سرته ورسوله . په کال ۱۳۴۵کې چه د محمد هاشم میوندوال د صدارت دوره وه عارض صاحب د صدراعظم میوندوال په خاص منظوری په اروزګان کې د ولسوال په توګه مقرر شو . په کال ۱۳۴۷ کې کوم وخت چه محمد هاشم میوندوال د پاچا محمدظاهر شاه سره د نظر اختلاف درلود او د خپلې دندې نه یې استعفا وکړه ټوله هغه مامورین چه د میوندوال په دصدارت په دوره کې مقرر شوي وه د وظیفې نه ګوښه کړل شوه . په همدې ترتیب عارض صاحب هم په کال ۱۳۴۸ په داخله وزارت کې د خدماتو د مدیر په توګه مقرر شو . په ۱۳۵۳ کې عارض صاحب د ننګرهار په ولایت کې د سرکاڼو ولسوال مقرر شو او په کال ۱۳۵۴ کې اجباري تقاعد ته واستول شو.

هغه دندې چه عارض صاحب تر سره کړیدي:

۱۳۲۵ -د افغانستان ملي بانک ، د وطن شرکت ، د میوې شرکت او د قند جوړولو لوی مدیریت

۱۳۲۶ -د میوې شرکت په ریاست کې د نظار هیئت عضوه په چمن پاکستان کې

۱۳۲۹ -د محاسبې او کنټرول ماموریت په قند جوړلو شرکت کښې

۱۳۳۰ -دولتي انحصارات د قند جوړولو څانګه په کابل کښې

۱۳۳۵ -د قبائلو په عمومي ریاست کې د خدماتو د مدیر په توګه

۱۳۳۷ -په قادري شرکت کې د محاسبې د مدیر په توګه

۱۳۴۵ -د محمد هاشم میوندوال د صدارت په دوره کې د اروزګان د ولسوال په توګه

۱۳۴۸ -د کورنیو چارو په وزارت کې د ترانسپورت د مدیر په توګه

۱۳۵۳ -د ننګرهار ولایت په سرکاڼو کې د ولسوال په توګه

۱۳۵۴ -د بعضي سیاسي اختلافاتو له امله اجباري تقاعد.

محترم عارض صاحب د خپلو رسمي دندو په څنګ کې او هم د تقاعدی په دوره کې زیات کتابونه او اثرونه لیکلي او ژباړلي دي چې نومونه یې په لاندي ډول دي:

۱ -بېسواده آمر په پښتو ژبه (په کال ۱۳۳۶ کې د کال لمړنی اثر وټاکل شو او د کال جایزه یې وګټل(

۲ -د ملګرو ملتونو منشور په پښتو ژبه ۳۲۶ صفحې (په کال ۱۳۴۶ کې د کال کتاب انتخاب او د سید جمالدین افغاني جایزه یې وګټل(

۳ -ابوریحان البیروني په دري ژبه ۳۳۲ صفحې

۴ -فتاوی دارلعلوم دیوبند په دري ژبه په ۱۲ ټوکه کې ۵۰۰۰ صفحې

۵ -قوت القلوب په دري ژبه په ۲ ټوکه کې ۲۰۰۰ صفحې



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

۶ -رياضالصالحين په پښتو ژبه په ۳ ټوکه کي ۱۹۵۰ صفحې

۷ -بوستان سعدي په پښتو ژبه ۳۰۰ صفحې

۸ -د سزاګانو اسلامي قانون په پښتو ژبه ۴۶۰ صفحې

۹ -درود او سلام په پښتو ژبه په ۲ ټوکه کي ۴۳۰ صفحې

۱۰ -درود او سلام په دري ژبه په ۲ ټوکه کي ۴۳۰ صفحې

۱۱ -اسمأ الحسنی په پښتو ژبه ۱۴۶ صفحې

۱۲ -اسمأ الحسنی په دري ژبه ۱۴۶ صفحې

۱۳ -فتاوی معمی په دري ژبه ۲۳۰ صفحې

۱۴ -حلال او حرام په اسلام کي په پښتو ژبه ۴۸۰ صفحې

۱۵ -احکام میت په پښتو ژبه ۲۷۰ صفحې

۱۶ -احکام و مسایل روزه په پښتو ژبه ۲۳۲ صفحې

۱۷ -مسائل زکات په پښتو ژبه ۲۹۰ صفحې

۱۸ -احکام میت په دری ژبه ۲۷۰ صفحې

څنګه چه عبدالاحد عارض د خپل ماموريت په دوره کي لمړی په ويښ زلميانو کي يو ډېر فعال غړی و او بيا د هغه تر ړنګېدو وروسته د صدراعظم محمد هاشم ميوندوال په ګوند کي چه مساوات نومېده شامل و ، ډېري زياتي ادبي ، سياسي ، اجتماعي او انتقادي مقالې يې ليکلي او خپرې کړيدي . دده مقالې په عمومي توګه په روزنامو ، مجلو ، جرايدو او مخصوصاً په مساوات جريده کي خپرېدلې.

دعارض صاحب په وياړ

دا جهان په تا نازېږی — که پرون و که هم نن او که سبا شي

بل به تا غوندي رانه شي دې جهان ته — که تورتم که تاريکي او که رڼا شي

ستا نه سترګي پټول به ناپوهان کړي — هله به پوه شي چي انځور دي برملا شي

وياړ د علم د ادب او د افغان يې — شاهدان به اثرونه او قلم ستا په دنيا شي

احمدالله رحماني



pashtoon.net / pashtun.info September 2017